**مطبوعاتي اعلاميه**

**د ۲۰۱۸ـ ۲۰۱۹ بودیجه چې د خلافت اړتیاوې پوره کوي تصویب شوه؛ خو هغه بله بودیجه چې د ښکېلاکي پانګوال نظام له لورې تایدېږي، زموږ اقتصاد له ناورین سره مخ کوي**

بسم الله الرحمن الرحيم

The Media Office
Hizb ut-Tahrir
Wilayah Pakistan

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

د ۲۰۱۷م د اپرېل پر ۲۷ مه د پاکستان مسلم لیګ-نواز حکومت د ۲۰۱۸-۲۰۱۹ لپاره کلنۍ مالي بودیجه وړاندې کړه. د بودیجې او اقتصاد په برخه کې د پاکستان د واکمنې ډلې مبدیي تنګلاسي څرګنده شوه. له یوه لوري حکومت د رایو خپلولو په موخه د ځینو مالیاتو کمولو په تړاو څرګندونې کوي، په داسې حال کې چې پر تېلو او ګازو بیا غیر مستقیمه مالیه لګوي، چې په دې سره به د ټرانسفورټ او برېښنا بیه لوړه شي. له بل لوري له یوه مبدیي بدیل پرته اپوزیسون اړ شو، هغه غیر انتصابي د مالیې وزیر چې پوره یوکال یې بودجه وړاندې کوله له دندې لرې کړي. په داسې حال کې چې د حکومت یوازې یوه میاشت وخت پاتې و. حکومت او اپوزیسون دواړه نه شي کولای د پاکستان اقتصادي کړکېچ پای ته ورسوي، ځکه دوی دواړه پانګوال نظام ته ژمن دي.

نننی پانګوال نظام د ناخالص فدرالي عوایدو یوه ستره برخه (۲۸,۶٪) د پورونو د ورکړې په چوپړ کې کاروي، چې په دې سره د پاکستان اقتصاد د ښکېلاکي مالي بنسټونو له لوري زبېښل کېږي. همدا رنګه د پاکستان اقتصاد د پانګوال نظام په اډانه کې د ځینو شرطونو په منلو اړ شوی دی، ان له ښکېلاکي ځواکونو سره د سیالۍ جوګه هم نه شي کېدای. پاکستانی کالداره د ډالر تابع ده او دا چاره کورني تولیدونکي هڅوي چې د صادراتو په برخه کې بهرني اسعار لاسته راوړي، چې په دې سره کورنۍ سرچینې د بهرنیو بازارونو تابع کېږي. په پایله کې کورنۍ غوښتنې په زیاتېدونکې توګه په لوړه بیه پر بهرني وارداتو متکي کېږي. د پانګوال نظام تر سیورې لاندې د خصوصي کولو په پلمه حکومت ستر صنعتونه او فابریکې شخصي کمپنیو ته سپاري د بېلګې په توګه: ستر ساختماني شرکتونه، درونډ صنعت، برېښنا او کانونه. نو دولتي خزانه د پراخو عوایدو له راتګ څخه بې برخې کېږي او دا د دې لامل ګرځي چې د خلکو چارې په سمه توګه سمبالې نه شي. سره له دې ځینې ښکېلاکي کمپنۍ د پاکستان د کلیدي سرچینو او شتمنیو څښتنانې دي، چې دا په خپل ذات کې یو خطر دی. همدا راز د اوسني نظام فدرالي حالت د پاکستان اقتصادي ستونزې نورې هم زیاتې کړې دي. د برتانوي ښکېلاک یو میراث دا دی، چې پلازمېنې دې شمتنې وي او نورې سیمې د نېستمنې وي. ولایتي بودیجه په دوامدره توګه په ولایتونو کې د سیاسي ګوندونو او په پلازمېنه کې د حاکم ګوند ترمنځ د شخړې اصلي لامل دی. د جنوبي پنجاب د مسلمانانو د ژوند معیار د شمالي پنجاب مسلمانانو په پرتله، چې د مسلم لیګ نواز ګوند اصلي ټاټوبی دی، په ټیټه کچه دي. د سند مسلمانان له پاکو اوبو، حفظ الصحي او د برېښنا له نعمتونو څخه بې برخې دي. د بلوچستان او خیبر پښتونخوا مسلمانان له باکیفیته زده کړو، روغتیایي او کاري فرصتونو بې برخې دي، که څه هم دې ته په پام سره ولایتي پلازمېنې نسبتاً په ښه حالت کې دي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

له ياد نظام څخه تمه مه کوئ او نه هم ياد نظام د خلکو د ژوند د ښه والي لپاره کومه اقتصادي تګلاره لري. دا د انسان په لاس جوړ شوی نظام دی، چې ښکېلاکګرو ته اجازه ورکوي، تر څو زموږ واقعي انرژي او پوتانشيل له منځه يوسي. د دې په بدل کې موږ بايد خپل دين ته ور وګرځو، تر څو مو بريا ډاډمنه او د الله سبحانه و تعالی رضايت مو په برخه شي. دا د اسلام سپېڅلی دين دی، چې ځانګړې اقتصادي تګلارې لري، پر مټ يې دولت د ډېرو عوايدو خاوند کېدای شي، له دې پرته چې پر ټولنه اقتصادي بوج واچوي. اسلام شتمني په دريو شخصي، دولتي او عامه برخو وېشلي. د انرژۍ سرچينې، لکه: تېل، ګاز او برېښنا عامه شتمنۍ ګڼل کېږي. عامه شتمني نه خصوصي او نه هم ملي کېږي. نو د دولت تر کره څارنې لاندې به په يادو سترو عوايدو سره د خلکو چارې سمبالېږي. اسلام د شخصي کمپنيو مالي توان محدودوي، ترڅو د اقتصاد سترې برخې، لکه: لوی ترانسفورټ او ساختمانونه خپله مديريت کړي. همدا ده چې دولت په طبيعي ډول په يادو سکتورونو کې د مشرۍ رول لوبوي او د دولتي خزانې لپاره پرېمانه عوايد تر لاسه کوي. اسلام امر کوي چې بانکنوټونه (پيسې) سره يا سپين زر وي، کوم چې خپله يو ذاتي ارزښت لري، نړيوالې سوداګرۍ ته ثبات ورکوي او کورنۍ بيې ثابتې ساتي. اسلام امر کوي چې د دولت تشکيل واحد او مرکزي وي او د ټولو سيمو واک له خلافت سره وي، چې د خپل والي او عامل پر مټ به واک پر ټولو سيمو چلوي. سرچينې به د امت شورا او ولايت شورا له مشورې وروسته ځانګړې کېږي، ترڅو د خلکو له غوښتنو سره سم مناسبه بوديجه ځانګړې شي. لکه څرنګه چې شورا يوازې مشورتي رول لري، نو نانډرۍ او سياسي مخالفتونه له منځه ځي او ټولې کړنې يوازې د خليفه حق ګرځي او بس.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

راشئ پانګوال ناکام نظام رد کړو، هغه نظام چې زموږ پر ستونزو او کړاوونو نورې ستونزې هم زياتوي. په ياد ولرئ، هر هغه څوک چې اوسني نظام ته تر ټاکنو وروسته لاره مومي، د ښکېلاکګرو له لورې ورته دنده سپارل کېږي، چې د پاکستان اقتصاد په ډوبېدونکې کښتۍ کې به نور سوري هم جوړ کړي او د خپلې حکومتولۍ په پير کې به زموږ د غوسې سبب شي.

راشئ ونه غولېږو او له حزب التحرير سره په اخلاص کار وکړو، ترڅو د نبوت پر منهج د خلافت د تاسيسولو له لارې خپل دين بيا ځلې ټينګ کړو. که اسلام ته ژور ديد وشي، نو خلافت هغه نظام و چې له پېړيو راهيسې يې د مسلمانانو د ځمکو لپاره د اقتصادي څارنې ډېر پياوړی ريکارډ درلود. راشئ د انسان په لاس جوړ شويو قوانينو ته شا کړو او د الله سبحانه و تعالی د دين د بشپړ حاکميت لپاره هڅې وکړو. الله سبحانه و تعالی فرمايلي:

**﴿أَلاَ يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾**

[الملک:۱۴]

*ژباړه: ايا هغه دې د هغو له زړونو خبر نه وي، چې پيدا کړي يې دي؟ په داسې حال کې چې هغه باريک ليدونکی(په پټو رازونو پوه) او باخبره دی.*

**حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**No: PR18030**

**۱۴۳۹ هـ ق، د شعبان ۱۲ مه**

**۲۰۱۸ م، د اپريل ۲۸ مه**